# د نري رنځ له منځه وړل
## نری رنځ: عمومي معلومات

## نری رنځ څه دی؟

نری رنځ (TB) یوه ناروغي ده چې هغو مکروبونو له لارې چې له یو کس څخه بل ته د هوا له لارې لېږدول کېږي خپرېږي. TB اکثره سږي اغېزمنوي، خو د بدن نورې برخې، لکه ماغزه، پښتورګې، او نخاع هم اغېزمنوي. په نري رنځ اخته کس که چېرې درملنه یې ونشي مړ کېدلی شي.

## د نري رنځ نښې څه دي؟

د نري رنځ ناروغۍ عمومي نښو کې د ناروغۍ یا کمزورۍ احساس، وزن له لاسه ورکول، تبه، او د شپې خوله شامل دي. د سږو د نري رنځ ناروغۍ نښو کې هم ټوخی، د سینې درد، او په ټوخی کې وینه شامل دي. د بدن د نورو برخو د نري رنځ نښې د اغېزمنې شوې برخې پورې اړه لري.

## نری رنځ څنګه خپرېږي؟

کله چې د سږو نري رنځ لرونکی کس ټوخی، پرنجی، خبرې یا سندرې ووايي مېکروب هوا کې خپرېږي. دغه مېکروبونه د چاپېریال په پام کې نیولو سره څو ساعتونو لپاره په هوا کې پاتې کېدلی شي. هغه څوک چې د نري رنځ دغه مېکروبونه لرونکې هوا تنفس کړي پرې اخته کېږي؛ دا د پټه نري رنځ ناروغي بلل کېږي.

## د پټه نري رنځ ناروغي او نري رنځ ناروغۍ ترمنځ څه توپیر دی؟

پټه نري رنځ لرونکي ناروغان خپل بدن کې د نري رنځ مېکروبونه لري، خو هغوی ناروغ نه دي ځکه چې مېکروبونه فعاله شوي نه دي. دغه خلک د نري رنځ د ناروغۍ نښې نه لري، او نورو ته دغه مېکروبونه نشي خپرولی. خو بیا هم، کېدای شي راتلونکي کې د نري رنځ په ناروغۍ اخته شي. هغوی ته اکثره د نري رنځ ناروغۍ رامنځته کېدو څخه مخنیوی لپاره د درملنې سپارښتنه کېږي.

نري رنځ لرونکي خلک د نري رنځ هغو مېکروبونو څخه چې فعاله دي ناروغ وي، په دې معنی چې د هغوی بدن کې زیاتېږي او نسجونه له منځه وړي. هغوی په عام ډول د نري رنځ د ناروغۍ نښې لري. د سږو او ستونی نري رنځ لرونکي خلک نورو ته د مېکروبنو د خپرولو وړتیا لري. هغوی ته هغه درمل چې نري رنځ ناروغي درملولی شي ورکول کېږي.

## که پټه نري رنځ ناروغۍ لرونکی کس سره مې وخت تېر کړی وي باید څه وکړم؟

پټه نري رنځ باندې اخته کسان نورو خلکو ته مېکروبونه نشي خپرولی. که چېرې پټه نري رنځ باندې اخته کس سره مو وخت تېر کړی وي اړتیا نشته چې معاینه شئ. خو بیا هم، که چېرې نري رنځ ناروغ یا د نري رنځ نښې لرونکی کس سره مو وخت تېر کړی وي، باید معاینه شئ.

## که چېرې د نري رنځ ناروغ په معرض کې واقع شوی یم څه باید وکړم؟

په نري رنځ اخته کسان ډېر امکان لري هغو کسانو ته چې هره ورځ ورسره وخت تېروي لکه د کورنۍ غړي یا همکارانو ته دغه مېکروب خپور کړي. که د نري رنځ ناروغ شاوخوا پاتې شوي یاست، باید معایناتو لپاره خپل ډاکټر یا سیمه‌ییز روغتیايي څانګې ته مراجعه وکړي.

## څنګه د نري رنځ لپاره معاینه کېږئ؟

داسې معاینات شته چې نري رنځ ناروغۍ تشخیص کې مرسته کولی شي: د پوټکي معاینه یا د نري رنځ د وینې معاینات. د مانتوکس توبرکولین د پوټکي معاینه د
لاس لاندینۍ برخې پوټکي کې لږه اندازه مایع (چې توبرکولین بلل کېږي) پیچکاري کولو سره ترسره کېږي. هغه کس چې د پوټکي توبرکولین معاینه کړې وي باید 48 څخه تر 72 ساعتونو کې بېرته ستون شي تر څو روزل شوی روغتیايي کارکوونکی د نوموړې مروند د غبرګون لپاره معاینه کړي. د نري رنځ د وینې معاینات دا چې د ناروغ د معافیت سیستم هغو مېکروبونو ته چې د نري رنځ لامل کېږي څه ډول غبرګون ښیي اندازه کوي.



د HIV/AID، د هیپاټایټس وایرس، STD ملي مرکز، او نري رنځ له منځه وړلو
د نري رنځ مخنیوی څانګه
CS227840_A

## د نري رنځ ناروغۍ درملنه څنګه کېږي؟

د نري رنځ درملنه له 6 څخه تر 12 میاشتو پورې مختلف درمل کارولو سره ممکن دی. دا ډېره مهمه ده چې د نري رنځ ناروغان خپل درمل بشپړ کړي، او له نسخې سره سم خپل درمل وکاروي. که ډېر ژر درمل کارول ودروي، بیا ناروغ کېدلی شي؛ که په سمه توګه درمل ونه کاروي، مېکروبونه به بیا هم ژوندي وي او د درملو په وړاندې به مقاوم شي. هغه نري رنځ چې درملو په وړاندې مقاومت ولري ډېر سخت وي او ګران بیه درملنې ته اړتیا لري. ځینو حالاتو کې، د سیمه‌ییز روغتیایي څانګې کارکوونکي د دې څارنې لپاره چې ایا خپل درمل کاروي په منظمه توګه د نري رنځ ناروغانو سره ګوري
د نري رنځ ناروغانو سره ګوري. دا په مستقیمه توګه څارل شوې درملنه (DOT) بلل کېږي.DOT له ناروغانو سره مرسته کوي چې لږ تر لږه موده کې خپله درملنه بشپړ کړي.

## اضافي معلومات

CDC.نري رنځ په اړه پوښتنې او ځوابونهhttp://www.cdc.gov/tb/publications/faqs/ default.htm

http://www.cdc.gov/tb

## د نري رنځ د ناروغۍ د معاینې مثبت پایله په څه معنی ده؟

د نري رنځ د ناروغۍ د معاینې مثبته پایله یوازې تاسې ته وایي چې دغه کس د نري رنځ په مېکروب اخته شوی دی. دا تاسې ته نه وایي چې ایا دغه کس د نري رنځ ناروغۍ
ته پرمختګ کړی دی که نه. نورې معاینې، لکه د سینې اېکسرې او د بلغم نمونه، د دې کتلو لپاره چې ایا دغه کس د نري رنځ په ناروغۍ اخته دی اړین دی.

## بیسیل کالمیت - ګورین (BCG) څه دی؟

BCG د نري رنځ ناروغۍ لپاره واکسین دی.BCG ډېرو هېوادونو کې کارول شوی دی، او عموماً په متحده ایالاتو کې یې سپارښتنه نه کېږي.BCG
واکسیناسیون په بشپړه توګه په نري رنځ اخته کېدو مخه نه نیسي. کېدای شي په غلطۍ سره د توبرکولین د پوټکي معاینې مثبتې پایلې لامل شي. خو بیا هم، هغو خلکو ته چې
د BCG واکسین شوي دي ته د توبرکولین د پوټکي معاینه او د نري رنځ د وینې معاینات ورکول کېدای شي.

## پټه نري رنځ ناروغي ولې درمل کېږ؟

که پټه نري رنځ ناروغي لرئ خو نري رنځ نه لرئ، کېدای شي ستاسې ډاکټر تاسې ته د نري رنځ مېکروبونو وژلو او په نري رنځ بدلېدلو څخه مخنیوی لپاره درمل درکړي. پټه نري رنځ ناروغۍ درملنې په اړه پرېکړه به په نري رنځ د بدلېدو چانس پورې تړلې وي. ځینې خلک ډېر امکان لري چې کله چې د نري رنځ مېکروب ولري د نري رنځ په ناروغۍ بدله شي. په دې کې په HIV مېکروب اخته کسان، هغه کسان چ په وروستیو کې د نري رنځ ناروغي په معرض کې واقع شوي وي، او ځانګړې روغتیایي حالت لرونکي کسان شامل دي.